۲ ستمبر - ۱۱ وړی :دپاکستان د جماعت اسلامی مشرقاضی حسین احمد دپاکستان جمهوررئیس ته تیلفون وکړاودهغی په ترڅ کی دنصرت بوټو له دی حرکت څخه چی په کراچی کی دکابل رژیم دقونصل په ملګرتیا کی ګډون کړی اندیښنه څرګنده کړه اودایی دیونیم ملیون شهیدانو وینو سره جفا وبلله .

۲ ستمبر - ۱۱ وړی: دروسیی د بهرنیوچاړووزارت یوه ویندوی دعبوری حکومت لپاره دامریکا دخاص استازی نا مسن داخبره چی په کابل کی اوس هم دری سوه روسی سلاکاران موجودي ردکړه .

۲ ستمبر - ۱۱ وړی: دکابل بنار پرهوایی ډګرباندی دمجاهدینو (۲۴) لری ویشتونکی توغندی ولګیدل چی دهغی له امله دملیشو اته تنه ووژل شول .

۲ ستمبر - ۱۱وړی:دعبوری حکومت ذبیح آباد دولووزیر "ربانی" دکورنیو چاړووزیر "خالص" اودډفاع وزیر "محمدی" په پیښورکی دپاکستان دموبه سرحدا علی وزیرآفتاب - احمدشیرپا وسره دافغانستان مسئلی دروانوحا لاتوبه باب خبری وکړی .

۳ ستمبر - ۱۲وړی: دپاکستان دموبه سرحدا علی وزیرآفتاب احمدشیرپا ودعبوری حکومت دمشر "مجددی" اودحزب اسلامی آمیر وروړ "حکمتیار" سره دافغانستان دروانوحا لاتوبه باب خبری وکړی.

۳ ستمبر - ۱۲ وړی: دکابل بنار پرهوایی ډګرباندی دمجاهدینو مرکزونوباندی دمجاهدینولر ی ویشتونکی توغندی ولګیدل چی د هغوی له امله دښمن (۲۰) تنه پوځیان ووژلی شول اوزیات شمیر ټپیان شول .

۳ ستمبر - ۱۲وړی: دعبور ی حکومت مشر "مجددی" دیوګسلاویا دهیوادد مشرچی دنا پیلوهیوادونو دغونډی مشری هم په غاړه لری په نوم یوليک واستاوه اودهغه په ترڅ کی یی غوښتنه وکړه چی په نا پیلوهیوادونوکی دافغانستان چوکی دمجاهدینوعبوری حکومت ته وسپاري .

۳ ستمبر - ۱۲وړی : باوری خبری سرچینو ریوټرورکړچی امریکائی مقاماتو په "سی،آی،ای" کی د افغانستان دچاړومسئول له خپلی دندی ایسته کړی .

۴ ستمبر - ۱۳ وړی: په بلګراد کی دپاکستان دبهرنیوچاړووزیر "یعقوب خان"خبریا لاتوه ووایل پاکستانی وفدبه دنجیب دوینا په وخت کی داحتجاج په ډول دغونډی له تالارڅخه ووځی .

۴ ستمبر - ۱۳ وړی: باخبروخبری سرچینو ریوټرورکړچی عربی او پاکستانی مقاماتو دمجاهدینو ترمنځ درا پیدا شوی مخالفت دله مینځه وړلوپه خاطرخپل فعالیتونه ګړندی کړل ریوټرزیاته کړی په همدی غرض څوورځی وړاندی د پاکستان یولوړرتبه هیئت په پاڼچنا رکی دوروړ "حکمتیار" سره ولیدل .

۴ ستمبر - ۱۳وړی: واشنګټن -

پوست ورځپانې دامریکایي مقاماتو له خولې ریوټ ورکړ چې امریکا او پاکستان تصمیم نیولی تردې وروسته وسله پراخزا بوبنده کړي او هغه په مستقل ډول قوماندانانو او دسیمو مشرانو ته ورکړي .

۵ ستمبر- ۱۴ وږی: په بلګرادکې دکابل دمزدورزړیم مشردنا پیلو هیوادونو غونډې ته دوینا په ترڅ کې دې ټکي باندې یووار بیا ټینګار وکړچې دافغانستان مسئلې په اړه دیونې یوال کنفرانس راوبلل شي .

۵ ستمبر- ۱۴ وږی: په بلګرادکې دپاکستان دبهرنیوچارو وزارت ویندوی خبریالانو ته وویل: پاکستان به دهنددې وړاندیز سخت مخالفت وکړي چې دنا پیلو هیوادونو په غونډه کې د افغانستان مسئلې دحل لپاره لاره ولټولې شي ویندوی زیاته کړه، موږ ددې غوښتونکي یوچې په افغانستان کې یوپراخ بسټیز حکومت جوړشي .

۶ ستمبر- ۱۵ وږی: باوري خبري سرچینو رپوټ ورکړچې دکابل دګودا ګي رژیم هغه اکمالاتي قطار چې دهرات ولایت څخه حرکت کړي او غواړي کندهار ته راشي تر اوسه دلاري په اوږدوکې بندپاتې شوی اونشي کولای دمجاهدینو عملیاتو له املهګان کندهار ته راورسوي .

۷ ستمبر - ۱۶ وږی: دامریکا یو خاص استازی روم ته سفروکړ او هلته بې دافغانستان بهرني چارو (ظاهرشاه) سره ولیدل .

۸ ستمبر- ۱۷ وږی: مجاهدینو کابل پرهوایي ډګرا ودښمن پر ځینو نورو نظامي مرکزونو لرې ویشتونکي توغندي وویشتل چې دهغې له املې ډبنمن دالوتکو الوتنې وځنډول شول اوزیات مالي اوځاني تاوان ورواوښت .

۹ ستمبر- ۱۸ وږی: دلوګرولایت ټولوجهادي تنظیمونو اوجبهاتو یوه مشترکه جهادي شورا دجهادي اموروانسجام اوښه پرمختګ په خاطرجوړه کړه .

۹ ستمبر- ۱۸ وږی: دافغانستان پخواني مخلوع شاه ظاهرشاه د یوی مرکې په ترڅ کې وویل: که پخواني دیوفدپه توګه دافغانستان ملت ته دخدمت غاړه اینبودله او س که دوی وغواړي دعبوری حکومت په راس کې هم کولې شم دافغانستان ملت ته دخدمت مصدروګرځم .

۱۰ ستمبر- ۱۹ وږی: دجمعیت اسلامي دتعلیم اوتربیې کمیتې دیوی غونډې په ترڅ کې دعبوری حکومت دتعلیم اوتربیې دوزارت په چوکاټ کې مدغم اعلان شوه .

۱۱ستمبر- ۲۰ وږی: مجاهدینو دکابل پرهوایي ډګرا ودکابل په نږدې کې دښمن پرپوځي مرکزونو لرې ویشتونکي توغندي وروا ورول چې دهغې له املې یوه دملګرو ملتو الوتکه اویوه هم دروسانو الوتکه تاوان شوی .

۱۱ ستمبر- ۲۰وږی: دحرکت انقلاب اسلامي دیوی ډلې مشرمولوی نصرالله منصوردیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل : عبوری حکومت ترڅو د اووه ګوندونو له چوکاټ څخه ونوځي اوپراخ نشي،نشي کولې دملت له ټولوجهادي قوتونو دملاتړ څخه برخمن شي .

۱۱ ستمبر- ۲۰ وږی: دعبوری حکومت صدراعظم دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل: موږ به دظاهرشاه په مقابل کې داسې وجنګیږولکه حزب اسلامي چې دکمونستانو اونجیب پرضدجنګیږو .

۱۲ ستمبر- ۲۱ وږی: دعبوری حکومت صدراعظم استاد سیاف دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې په بلګرادکې دنا پیلوهیوادونو دغونډې په باب چې دافغانستان موضوع یې په اجنداء کې ده وویل : دافغانستان مسئلې دراتلونکې په باب یواځې مجاهدین دفیصلې کولوحق لري هغه زیاته کړه: موږ به هیڅ چا ته حق ورنکړو چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله وکړي .

۱۲ ستمبر- ۲۱ وږی: دحزب اسلامي سیاسي ریاست په پاکستان کې د ایران میشته سفیر ته په دې خاطر یواحتجاجي لیک وسپارچې ایران په دې وروستیو کې په خپلو مطبوعاتو کې دحزب پرضد زیات ناوړه تبلیغات پیل کړي .په دې لیک کې دایران څخه غوښتنه شوې وه چې دافغانستان په چارو کې لاس وهنه بنده کړي .

۱۳ ستمبر- ۲۲ وږی: دعبوری حکومت کابینې په یوی غونډې کې دجنوب لویدیځو ولایتو او افغانستان دنورو سیموځینو علماؤ او وړاندیزچې دعبوری حکومت دفاترو دې داخل دافغانستان ته انتقل شي منظورکړ .په دې غونډې کې دجنوب لویدیځو ولایتو (۲۵۰) ځینو علماؤ او مشرانو هم ګډون کړی ؤ .

۱۴ ستمبر- ۲۳ وږی: دپاکستان دخیبرایجنسي دا پریدو مشر ملک نادرخان د"بی بی سی" را ډیوسره په مرکه کې وویل : مجاهدین بایدانتخابات وکړي او په دې ترڅ کې چې هرڅاانتخابات وکړل قدرت بایدهماغه ډسپارل شي .

۱۴ ستمبر- ۲۳ وږی: پیرسیداحمد- ګیلانی دملي محاذمشردخپل کار په دفتر کې دیوی مرکې په ترڅ کې وویل : دافغانستان خلک به

دکمونست حکومت دله مینځه وړلواو
دخود مختاری دلاس ته راوړلوپه
خاطر دظاهرشاه راتګ ته ښه
راغلاست ووایی .

۱۴ ستمبر- ۲۲ وړی: باخبرو
خبری سرچینورپوټ ورکړچی
ظاهرشاه دپاکستان حکومت څخه
دویزی لاس ته راوړلو غوښتنه کړی
دا غوښتنه ترهغی وروسته وشوه چی
ظاهرشاه دامریکا له خاصاستازی
سره په روم کی ولیدل .

۱۵ ستمبر- ۲۴ وړی: باوری خبری
سرچینورپوټ ورکړچی دحزب اسلامی
اتلو مجاهدینو دسالنګ لارهبنده
کړی اودیګرام پرهوایی ډګریی
درانده عملیات پیل کړی .

۱۵ ستمبر- ۲۴ وړی: دجمعیت-
اسلامی اونجات ملی محمی
کمیټی دیوی غونډی په ترڅ کی
دعبوری حکومت دمحت عامی په
وزارت کی مدغم اعلان شوی .

۱۶ ستمبر- ۲۵ وړی: په امریکا
کی دپاکستان سفیرذوالفقارعلی
خان په امریکا کی دپاکستانی
اوسیدونکوپیوی غونډی ته په وینا
کی وویل :
پاکستان دافغانستان مسئلی د
سیاسی حل کوښښ کوی، اوپه دی
لټه کی دی چی په افغانستان کی
دیوه پراخ بسټیزحکومت جوړیدو
ته زمینه مناعده شی .

۱۶ ستمبر- ۲۵ وړی: دملی نجات
جبهی دتعلیم اوتربیی کمیټه
دیوی غونډی په ترڅ کی دعبوری
حکومت دتعلیم اوتربیی په وزارت
کی مدغم اعلان شوه .

۱۷ ستمبر- ۲۶ وړی: دامریکا
دکابل په بنا رکی دډنمن پرپوځی
مرکزونواودروسیی پرسفارت -
باندی لری ویشتونکی توغندی
وروا وروړل چی دهغوی له املـه
سفارت یوه کوته وبجاړه اونورزیات
مالی تاوان وروا وښت .

۱۷ ستمبر- ۲۶ وړی: دعبوری
حکومت دډفاع وزارت مرستیال
جنرال یحیی " نوروز" دیوه
مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی
چی د"افغانستان داسلامی آژانس"
په دفترکی جوړشوی وئ وویل :
دډی سره سره چی دروسیی قوا و
تروتلووروسته مجاهدینو توسله
نه ده ورکړشوی خو مجاهدینو خپل
ایمانی رسالت په نړه توګه اجراء
کړی .

۱۸ ستمبر- ۲۷ وړی: دعبوری -
حکومت صدراعظم آستا دسیاف د
یوی مرکی په ترڅ کی دظاهرشاه
راتګ وغانده اوددی —
په باب چی پاکستان ټاپی ظاهر
شاه ته ویزه ورکړی ووایل: که
پاکستان داکار وکړی دا عمل به
دافغانستان ملت سره دجنګ اعلان
وی .

۱۸ ستمبر- ۲۷ وړی: نړیوالو
خبری سرچینورپوټ ورکړچی
روسانوپه دی وروستیوکی دکابل
رژیم ته دوه ډوله توی لـری
ویشتونکی توغندی ورکړی چی
(۸۰۰) کیلومتره فاصله ترهدف
لاندی نیولی شی .

۱۹ ستمبر- ۲۸ وړی: دپاکستان
صدراعظمی بی نظیربوټودرویټر
خبری آژانس سره په مرکه کی ووایل
فعلا" ظاهرشاه دراتګ په باب
خبری بوعجولانه کارډی اوسنیو
شرایطوکی پاکستان دمجاهدینو
دعبوری حکومت څخه خپل ملاتر
ته دوام ورکوی .

۱۹ ستمبر- ۲۸ وړی: دجمعیت
علماء اسلام عمومی منشی دیوی
مرکی په ترڅ کی ووایل : په
پاکستان کی دسیکولرزم پلویان
غواړی په افغانستان کی دیو
اسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی
ترڅو پرځای یی هلته هم سیکولر-
پستی حکومت جوړشی .

۲۰ ستمبر- ۲۹ وړی: دکابل بنار
پرهوایی ډګرباندی مجاهدینو
لری ویشتونکی توغندی وروا وړل
چی دهغوی له املـه دڅوساعتو
لپاره په هوایی ډګرکی دالوتکو
پروازونه بند وو .

۲۰ ستمبر- ۲۹ وړی: دعبوری
حکومت مشرد"تاجمز" ورځپاڼی
سره په مرکه کی ووایل: که چیرته
ظاهرشاه دعبوری حکومت دجوړ-
یدوځخه دمخه موږسره په جاه دکی
شریک شوی وی یوځه موږیلی شوخو
اوس ورته دقضیی په حل کی هیڅ
نقش قایل نه یو .

۲۱ ستمبر- ۳۰ وړی: نړیوالو
خبری سرچینورپوټ ورکړچی دکابل
بنارا وسیدونکی سړکال بیاد
پروسړکال په ډول دسختی قحطی
سره مخامخ شوی . رپوټ زیاتوی
خوراکی مواد نه پیداکیږی دضرورت
وړشیا نوبیه لوړه شوی، اوټولـی
اکمالاتی لاری پرکابل بندی دی .

۲۱ ستمبر- ۳۰ وړی: حاجی دین
محمد دحزب اسلامی مولوی خالص
مرستیال اوډعبوری حکومت دملی
امنیت وزیر دیوی مرکی په ترڅ کی
وویل : موږدا امریکا نه توقع نه
لروچی هغه ددی هلی ځلی وکړی
چی په افغانستان کی دخپلـی
خوښی حکومت جوړکړی هغه زیاته
کړه : موږپوهیږوچی اوس امریکا
خپلی ګټی په ظاهرشاه کی ګوری
اوهغه افغان ولس ته دهغلووړنه
دی .

۲۲ ستمبر- ۳۱ وړی: دکابل بنار
پرهوایی ډګرا ونورونظامی مرکزو-
نوباندی مجاهدینو ۱۶ لـری
ویشتونکی توغندی وا وروړل چی
دهغی له املـه ددښمن ۱۰ تنه ووژل
اوزیات شمیرټپیان شول .

۲۲ ستمبر- ۳۱ وړی: باوری سر-
چینورپوټ ورکړچی دکابل رژیم د
پوځ موراڼ دپرضعیف دی اوهریو

ددی کوښښ کوي چې دمجاهدینو سره یوځای شي رپوټ زیاته کړه :که روسان ددی رژیم سره مرسته ونکړی ددومیاشتو په موده کې به نسکور شي .

۲۲ ستمبر- ۳۱ وړی: دپاکستان دبهرنیوچارووزیر په یوه وفد کې چې مشری یې دنصرت بوتو په غاړه وه دملګرو ملتودعمومی اسامبلی په غونډه کې دګډون په خاطر امریکا ته سفروکړچې هلته به دامریکا یې او ځینو نورو هیوادونو له مقاماتو سره دافغانستان مسئلی په اړه خبری وکړی .

۲۳ ستمبر- ۱ تله : دپاکستان دجماعت اسلامی مشرقاضی حسین احمد دیوی مرکی په ترڅ کې وویل : غربی نړۍ اونوراستعماري هیوادونه غواړي په افغانستان کې دیوه اسلامی رژیم دجوړیدو- مخنیوی وکړي .

۲۳ ستمبر- ۱ تله : دهنددبهرنیو- چاروزارت سکرتر" اسین " کې ،سنګه " ایران ته سفروکړ تر څودځینوسیمه ایزومسایلوسربیره دافغانستان مسئلی په اړه د ایرانی مقاماتوسره خبری وکړی .

۲۴ ستمبر- ۲ تله : باخبروخبری سرچینورپوټ ورکړچې دکابل دګوډاګی رژیم الوتکودنورستان په سیمه کې دخلکو پرهستوګنو ځایونو باندی بمباری وکړه چې دهغې له امله (۳۷) ښځې ،ماشومان اونارینه شهیدان شول .

۲۴ ستمبر- ۲ تله : دحزب اسلامی مشرورورحکمتیار دیوی وینا په ترڅ کې وویل : امریکا غواړی په افغانستان کې دروسانوځای ونیسی هغه زیاته کړه :ځینې هیوادونه دژورنالستانو په جامه کې جاسوسان افغانستان ته رالیږی چې هغوی له دی لارې د مجاهدینو په مینځ کې اختلاف پیدا کوي .

۲۴ ستمبر- ۲ تله :دهنددبهرنیو چاروزارت سکرتر په ایران کې دایرانی مقاماتو سره ترکتنې وروسته په ایران کې دمیشته اته ګونی اتحاد مشرانو سره دافغانستان مسئلی په اړه خبری وکړی .

۲۵ ستمبر- ۳ تله : دعبوری حکومت دتعلیم اوتربیې وزیر "فاروق اعظم " په اسلام آباد کې دروسیې بندیانو خلاصیدو په خاطر راغلی وفدسره خبری وکړی خوځه نتیجې ته سره ونه رسیدل .

۲۵ ستمبر- ۳ تله :دامریکا د "حفاظتی شورا "مشر"داکټر زبګنیو برژه هاس " په کچه ګړی کې ،مهاجرینو ته په وینا کې وویل:امریکا او پاکستان به ترهغې دمهاجرینو سره مرسته وکړی ترڅوچې دوی ته دبیا ستنیدو وښه شرایط مساعدشی .

۲۵ ستمبر- ۳ تله : دکانا دا هیواد دښځو یوه ډله دملګرو ملتوترنظارت لاندی پیښور ته راورسیده او د - "رسالپور" په سیمه کې به دکمپونو ښځې دماینونو دخنثی کولو په خاطر روزی او دهغې څرنګوالی به ورته وښیی .

۲۶ ستمبر- ۴ تله :دهنددبهرنیو چاروزارت په تهران کې دایران جمهوررئیس رفسنجانی سره دسیمې اوافغانستان مسئلی په اړه خبرې وکړی اوهغه ته یې دراجیوګاندی لیک وسپاره .

۲۶ ستمبر- ۴ تله :دمولوی خالص داسلامی حزب دتعلیم اوتربیې کمیټه دیوی غونډی په ترڅ کې د عبوری حکومت دتعلیم اوتربیې وزارت په چوکاټ کې مدغم اعلان شوه .

۲۷ ستمبر- ۵ تله : داروپائی هیوادونو دګډی شورا مشر " رونالددوماس " چې دفرانسې دبهرنیوچاروزیرهم دی دملګرو- ملتودعمومی اسامبلی غونډی ته په وینا کې وویل : افغانان باید په خپله خوښه یوپراخ بنسټیز حکومت جوړکړی ترڅودافغانستان غیرجانبدارانه حیثیت تینګ شي.

۲۷ ستمبر- ۵ تله : دروسیې د بهرنیوچاروزیرشوردنادزی د ملګرو ملتودعمومی اسامبلی غونډی ته په وینا کې دافغانستان روان جنګ دهغوی داخلی جنګ وبالله .

۲۷ ستمبر- ۵ تله : دکابل ښار پرهوایی ډګرا ونورو پوځی مراکزو باندی دمجاهدینو (۱۷) توغندي ولګیدل چې دهغې له امله په هوایی ډګرکی دالوتکوپرواز و ځنډول شوا ودښمن ته زیات تاوان ورواوښت .

۲۸ ستمبر- ۶ تله : دمجاهدینو دعبوری حکومت خبری آژانس اعلان وکړ چې مجاهدینو دکابل جلال آباد لارې بنده کړی اودسروبی په سیمه کې ددښمن پوستې یې ترسختو عملیاتو لاندی نیولي .

۲۸ ستمبر- ۶ تله :دنصرت بوتو ثقافتی سلاح کاری "انیسه عالیه امان " دکابل رژیم د(یووالی اودوستی انجمن "په غوښتنه کابل ته سفروکړ ترڅوددی انجمن له خوا جوړشوی غونډی کې ګډون وکړی

۲۹ ستمبر- ۷ تله : دکابل ګوډاګی رژیم یومیګ (۲۱) جیټ الوتکه چې دبګرام څخه پرواز کړی وۀ اوپرجلال آبادیې بمباری کوله د پیښور په هوایی ډګرکی راکوزه شوه اوپیلوټ یې "جلال الدین "دپاکستان حکومت څخه سیاسی پناه وغوښته .

۲۹ ستمبر- ۷ تله : دکابل رژیم دبهرنیوچاروزیر "وکیل" په نیویارک کې دملګرو ملتودعمومی اسامبلی غونډی ته په وینا کې وویل :امریکا دی افغانستان

اسلامی فقه

دخپل تکامل په مختلفو دوروکی ۰

لیکونکی : شیرعلم - مقصل -

اوس اصل مطلب ته راځو او دفقه د تشریع څرنګوالی دهغې په مختلفو مرحلو کې مطالعه کړو :

په اسلامي فقه ساندې دري مهمې دورې سره شوې دي:

۱ - د رسول الله صلی الله علیه وسلم عصرې دهغه صلی الله علیه وسلم په وفات سره پای ته رسیږي . (۱۱ هـ ۶۳۲ م)

۲ - دا هغه دوره ده چې سمدلاسه د څلورمې هجرې پیړۍ سمسانې ته پای ته رسیږي ۰

۳ - دسمسلمه دوره ده دوهمې دورې له اخره شروع اویای کې له ۱۳۰۰ هـ (۱۹۲۰ م) سره مل خاته شده معلوم کې په لاندې ډول چې تعمیل وړاندې کیږي ۰

۱۰ - دسې کړنه رمانه :

دا دوره سمدلاسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت څخه وروسته زیږدلې ده. کیدلای شي چې دا دوره له نورو سره په دوو برخو وویشل شي ۰

۱ - مکې له هجرت څخه تر مدینې ته رسیدو (مکي دوره) ۰

۲ - رسول الله له هجرت څخه تر سمدلاسه ځانه وړاندې (مدني دوره) ۰

د رسول الله د عمر او د شریعت په مکه معظمه کې عبارت وه د هغو احکامو څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کې ټولنه جوړه کړې وه او د هغو احکامو څخه چې د مدینې په ټولنه کې د ټولنې د جوړیدو سره سم نازل شول ۰

قرآن عظیم الشان په مکي دوره کې د زیاتره سورتونو نازلیدو سره سم د هغو احکامو د پیاوړتیا او د هغو د پلي کیدو لپاره د ټولنې د جوړولو او د ټولنې د پراختیا لپاره د مدینې په دوره کې د ټولنې د جوړولو او د ټولنې سره سم د هغو احکامو د نازلیدو سره سم د هغو د پلي کیدو لپاره

چې مدینې منورې ته هجرت وکړي په دې وخت کې اسلامي تشریع خپله بشپړه دحلکو دروزمرې فرډې اوښتولنیزژوندشمولوتښه راوکړځولې اودقرآن کریم زیاته برخه دروزمرې ژوندپه مربوطواحکاموکې راښازلیدله. په تفصیل سره یې دعباداتو معاملاتو، جرمونو، میراث، وصیت، نکاح، طلاق، ایمانو (قسمونو) قضاء اوداسې نورواحکام بیان کړل.

فقهي احکام درسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې یواځې له قرآن کریم اوده صلی الله علیه وسلم له حدیثو څخه اخیستل کیدل اودخلکوداحتیاج اوحالت سره سم په تدریج سره نازلیدل.

تشریع په دې دورې کې دآسانتیا اوپه مسلمانانوباندې د په سختیا پالیسي اورنګ درلود.

۲ - داجتهاد دوره:

اجتهاد په لغت کې کوشش، ګولونه وایي اوپه اصطلاح کې دتشریع له اصلي مصادرو (کتاب الله او سنت رسول الله) څخه د شرعي کلام په استنباط کې زیارایستلونه وایي.

دادوره درسول الله له رحلت څخه شروع اودخلورمې پیړۍ تر نیمایي پورې بې دوام کړې، کیدلای شي چې دادوره په دریوبرخوباندې ووېشل شي.

۱ - دراشدوخلفاؤ زمانه:

۲ - دکشرانواصحابواوتابعینوزمانه: (دامویانودوره)

فقهي کتابونه په اول کې په آسانه اوتفصیلي توګه لیکل شوي وو، خوچې کله دزده کونکي کمزورتیا احساس شوه، نوعلماؤ اختصارته ملاوتړله، کله کله به دا اختصاردی درجې ته ورسیدچې دمطالبوفهم به تري مشکل شو، چې بیا به نورو علماؤ دمختصرګرای شوپوکتابونوشرح کوله، بیا نورعلما را پورته شول دشروحوخفي ځایونه یې توضیح کړل، وروسته یې په شروحو مکملي شرحې ولیکلې نوګه په فقه کې متون، شروح اوتبلیغات را مینځته شول.

۲ - دعباسیانوزمانه (دخلورمې هجري پیړۍ تر نیمایي پورې دوام لري).

۱ - دراشدوخلفاؤ زمانه:

درسول الله له وفات نه وروسته راشدوخلفاؤ اولویو اصحابورضی الله عنهم په دنیوي اودیني امورو کې دمسلمانانودلارښونې دروندپیښې په اوږو واخیستې، په دې وخت کې داسلامي دولت ساحه پراخه اونوي حوادث چې پخوایي سابقه نه درلوده هم زیاتوؤ دوي مجبوروؤ چې دې نوو مسائلوته شرعي احکام پیداکړي زیاربه یې ویسته چې حکم یې په کتاب الله یا سنت کې پیداکړي که خپل مطلب به یې هلته پیدانکړنودشرعي قواعدوپه بناکې به یې له رایې څخه کار اخیست ترڅودهغې مسائلي حکم پیداکړي.

په دې وخت کې له کتاب الله اوسنت څخه پرته بل هر دلیل اووسیله چې دشرعي حکم د پیداکولولپاره په کارلویدله رائې بلل کیده چې البته به وروسته زمانوکې دادلایل په مختلفوبیلوبیلو نومونویادشول لکه اجماع، قیاس، مصالح مرسله، ذمې اصلي براءت، شرالذرایع استحسان، عرف اوداسې نور.

دفقهي مصدرپه دې وخت کې کتاب الله اوسنت رسول الله اوجمعي اوفردي رایه (اجتهاد) وه.

کله به چې حضرت ابوبکرصدیق ته موضوع راغله نو اول به یې دهغې حکم په کتاب الله کې لتولو که پیدا به یې کړو دهغه مطابق به یې فیصله کوله او که په کتاب الله کې به یې پیدا نکړو درسول الله سنت ته به یې رجوع کوله حکم به یې هلته کوت، که پیدا به یې کړو دهغه مطابق به یې فیصله کوله او که نه نو لوخلکو څخه به یې پوښتنه کوله چې آیا رسول الله (ص) په دې موردکې څه حکم کړی؟ ډیرځله به ځوک پیدا شول چې ویل به یې هو! په دې موردکې رسول الله داسې حکم کړی. نودهغه مطابق به یې حکم کاوه، او که په کتاب الله اوسنت رسول الله کې به یې دمسائلي حکم پیدا نکړنودامت پوهان به یې راوغوښتل مشوره به یې تري واخیسته چې به کوم شي به یې اتفاق راغې په هغه به یې حکم کاوه.

حضرت عمرفاروق رضی الله عنه هم داکارکاوه، کله به یې چې دمسائلي حکم په کتاب الله اوسنت رسول الله کې پیدانکړنو پوښتنه به یې کوله چې آیا ابوبکر په دې موضوع کې څه فیصاوت کړی؟ که دا ابوبکر قضاء به یې پیدا کړه نو دهغه مطابق به یې حکم کاوه او که پیدا به یې نکړه نو پوه خلک به یې راټول کړل مشوره به یې تري واخیسته چې په کوم شي به یې اتفاق راغې دهغه مطابق به یې فیصله کوله.

۲ - دامویانوزمانه (داولې پیړۍ تر نیمایي نه ددوهمې پیړۍ تر اوایلوپورې) دازمانه دتشریع له پلوه دراشدو خلفاؤ زمانې ته ورته وه پردې توګه چې اول به کتاب الله بیا به درسول الله (ص) حدیث بیا به اجماع اورایې ته رجوع کېده، مګر دمشورې په مبداء دوخت دخطرناکوپیښو له کبله چې په فقه یې بنکاره منفي اثردرلودسم عمل نه کیده اختلاف زیات شو، شورې په حقیقي معنا سره نه وه موجوده، اجماع مشکله شوه مګر داچې تصادفي به پیښه شوه.

ددې زمانې مهمې منفي پېښې داوې:

۱ - دخلافت په سبب چې ځوک یې مستحق دې ملت په دریو برخووویشل شي خوارج، شیعه، اواهل السنه والجماعه، دا سیاسي تفرق دعلمي کډوډیواوفقهي اختلافاتوعمده سبب وګرځیده.

۲ - اموي خلفاؤ دخپلوسلفولارپریښوده ناروسیاستیي مخه کړه داسې امورو یې له خپله ځانه ایجادکړل چې په اسلام کې یې جواز نه درلود. دې کارفقهاء تري بیزاره کړل. خواته نه ورتلل تل به یې زیارایستلو چې ځانونه لرې تري وساتي نوپه داسې حال کې طبعاً شوري ته پخوانۍ حالت نه پاته کیږي.

۳ - په دې دوره کې فقهاء په مختلفوښارو کې تیت شول د حضرت عمررضی الله عنه ددوران غوندې نووچې دمشورې په منظور به یې ټول په مدینه منوره کې ساتل پوهانو (اهل

۲ ـ به‌نظرا مریکا کمک با مجاهدین تا آن حدی درست بودکه‌توانستند باآن ارتش روسی را ازخاک خویش برانند ! ولی بیشترازآن مسئله تشکیل حکومت مجاهدین درکابل آنهارا هراس‌ازحکومت‌بنیادگراها می انداخت . گفته می توانیم که غالباً دراوایل فکرونظرا مریکا براین خطوط استوارنبود،ولی نمی توان ازاین امرانکارکردکه نیروهای یهودی غالب برحکومت امریکا این تشویش راهمیشه‌درذهن داشته‌اند !!

وبه‌همین دلیل بودکه بعدازخروج روس ها ازافغانستان حکومت امریکا با قطع کردن کمک بر مجاهدین برای غیرموءثرساختن هرنوع حمله وکارروائی موءثرمجاهدین علیه‌رژیم مزدورتلاش ورزید !!

هدف ازاین تلاش این بودتا با قطع کردن راه های کمکی برمجاهدین آنهارا وادار به‌قبول کردن یک نوع حل سیکولر (غیراسلامی) نماید !!

۳ ـ غرب شکست‌خورده دردوجنگ جهانی اکنون حتی ازتصورجنگ هم خوف دارد، غرب چنین لرزان وترسان ازجنگ ابرقدرت هاکه‌برای نخستین بار" پیامبرصلح " ،"نجات دهنده" و"دورکنندهٔ خوف جنگ" !!! رادرشکل وقیافه گورباچوف دید.

گذشته ازاین غرب هزارکیلومتردورازسرحدات خویش برای مملکتی این همه‌راچرا انجام دهدکه درآنجا ازموقف مستحکم ضد روسی سامان ووسایل تقویت یافتن یک قوت دیگری ضد غربی(انقلابی واسلامی) محیا گردد !!

حقیقت اینست‌که غرب این خوف را با تذکرزیاد استعمال نموده وتصوریک غرب فارغ ازفضای کشمکش ودارائی آیندهٔ روشن راکه به‌گورباچوف (همچویک خواب تلقین کرده‌بود) تاحدی زیادی قوت فیصله ایشان را سلب نمود واقدامات آنهارا مانع گردید.

۲ ـ چنان احساس می شودکه‌گورباچوف باقوت تمام این تاءثررادرذهن همه‌مغرب زمین بشمول امریکا نشانده‌است‌که‌از درپیش گرفتن سیاست مخاصمانه‌علیه روسیه‌چه‌درافغانستان وچه‌درمناطق دیگر، سیاست صلح بین المللی "گورباچوف" ضررخواهد دید .

وآنزمان احتمال مستحکم شدن آن گروه ازحزب کمونیست می رودکه با مشکلات زیادی تحت کنترول آمده اند، به‌این سبب نباید درحل هیچ مسئله اینگونه اصراروزیدکه با منفعت های روسیه‌مخالفت صریح وروشن داشته باشد !! وبه‌سبب آن‌حیثیت‌موجودهٔ گورباچف متاءثر گردد. چنانچه فعلاً" طوری معلوم می شودکه غربی ها چه شعوری وچه‌هم غیرشعوری قدم اول درمعاملات را به‌روسیه واگذارمی نمایند، وخودبحیث دسته های محافظ گورباچف وتوجیه کنندهٔ اقدامات وی ادای فریضه می نمایند !!

۵ ـ یکی ازمعامله‌های مهم دیگربرای غرب دراین کشورخون گرم (افغانستان) تحفظ مفادات خود امریکادست .

درحقیقت خاتمه دیتانت دردهه هفت عیسوی سیاست مخاصمانه ریگن ومسئله افغانستان دراین منطقه تماشاه‌گاه کشمکش های جهانی گردید .

انقلاب ایران درآسیای جنوب شرق ، وخلیج منافع امریکا راضعیف ساخت طوریکه همهٔ منطقه‌ازمصر الی پاکستان درقید" خطرات متوجه‌شده‌به‌امنیت " !! امریکا درآمد وبرهمین مبنی بودکه‌این منطقه را "هلال بحران " نامیدند !! بعداً" هم خروج ارتش روس ازافغانستان ،مستحکم شدن گورباچف خلع شدن ریگن ، وشهادت ضیاء الحق ازقسمت دوم این نمایشنامه پرده برداشت .

سه‌عامل اول الذکراسباب کشمکش ابرقدرت هارا غیرموءثر ساخت ، تاجائیکه شهادت رئیس جمهور ضیاء الحق این آخرین تشویش رانیز دورکرد، که‌این بازی بزرگ رایک رخ قطعی انقلابی می دادوآن عبارت ازتشکیل " بلاک اسلامی " بود !! اکنون ودراین حالت تلاش امریکا اینست‌که این منطقه هرچه زودتر" پرامن " گردد .

تابا سرعت برای پیشبردمفادات خوداقدام نموده‌بتواند، وباعث پرشدن جای خالی شده‌روسها

الحل وا لعقد) ته به یې یې ضرورته اجازه نه ورکوله چې له مدینې منورې څخه ووزي .

۴ ـ به دې دوره کې دیخوا په خلاف هرچا اجازه درلوده چې د پیغمبر څخه دحدیثونو روایت وکړي دې کار که له یوولوري ګټه درلوده او حدیث هرچا ته رسیده له بل لوري یې اسلام دښمنه عناصرو نه زمینه مساعده کوه چې دا سلام دتخریب په خاطر یا د خپلې ادعاء دا ثبات په غرض له خپله ځانه څخه جوړ او پیغمبر ته یې منسوب کړي، دې په نتیجه کې په فقهاؤ لازمه شوه مخکې تر دې چې له حدیث څخه احکام استنباط کړي یوواړه داجوته کړي چې ایا دا حدیث دې او که نه ؟

البته دراشدو خلفاؤ په وخت کې فقهاؤ دا مکلفیت نه درلود .

۵ ـ په دې دوره کې فقهاؤ دفقهي مسلک په لحاظ دوو برخوته ووېشل شول اهل الرای او اهل الحدیث. اهل الرای هغه فقهاؤ چې عقیده یې لرله چې احکام په علتونو معلل دي . د محمد احمد فودترلاسه کولو په خاطر وضع شوي، دوی بیا د احکا مو دعلتو پېروي کوله راه په اوقیاس یې زیات استعمالول چیرته به یې چې دحکم علت وکوت حکم به یې هم ثابت بالله خوپه دې شرط چې به موضوع کې به ډل ثابت اوصحیح نص موجود نه وي .

اهل الحدیث هغه فقهاؤ چې ترڅوبه یې په قضیه کې نص پیدا نکړحکم به یې نه کاؤ ،دا هل لرای مرکزکوفه اوداهل الحدیث مرکزحجاز وؤ .

۳ ـ دعباسیانو زمانه (دووهم هجری پیړی له اوایلو څخه دځلورمې پیړی ترنیمایې پورې) دا دوره دا موباندوله ختمیدو څخه شروع اودځلورمې پیړی ترنیمایې پورې چې دعباسیانو دولت کمزوری اوپه وړوړو دولتونو چې په خلافت پورې په نوم ترلې وؤ تقسیم شې دوام کوي .

په دې دوره کې فقهي دنورو علومو په څېر زیاته ترقي وکړه مستقل علم تري جوړ شو، دا دوره دسلمانانو نولېړه دهر اړخیزې ترقي دوره وچې طلایي دوره بلل کیږي ،په دې زمانه کې مهم تشریعي مرکزونه عبارت له بغداد ه ،کوفې، بصرې، مدینې، مکې ، مصر، دمشق اومروي څخه وؤ .

دیخوا په شان استنباط فقط په پېښوخو څو موضوعاتو پورې منحصر پاته نه شول بلکه فقهاؤ به مسایل فرضول دهغوحکم به یې له نصوموڅخه استنباط کولو .

دې مثبتو تحولاتو علت دا وؤ چې دوخت حاکمانو فقهي او فقهاؤ ته زیاته پاملرنه کوله هرچا خپل نظر په آزادول نېکاره کولای شوی، دفقهاؤ ترمنځ زیاتې مناظري کیدې دنورو علتونو علومو ترجمې او دحدیثونو دوښنولو دفقهاؤ په عقل او طرزفکر باندې زیات مثبت تاثیر وکړ .

د تقلید دوره :

دا دوره دځلورمې هجری پیړی له نیمایې څخه شروع کیږي په دې دوره کې فقهي درکښو دحالت اختیارکړ څه چې :

۱ ـ دوخت سیاسي نیمګړتیا وو په فقاؤ اونورو علومو مستقیم منفي تاثیر درلود هغه آزادي چې پخوا فقهاؤ ډلږ دله په دې دوره کې یې نه لرله .

۲ ـ خلک په آسوده ژوند اخته شول، دومره زحمت یې په ځان نه تیراوچې له کتاب الله اوسنت څخه دحکم استنباط وکړي دپخوانیو فقهاؤ نظریا توته به یې رجوع کوله اوله تیرو استنباط شوا حکا موڅخه به یې استفاده کوله اوخپل مشکل به یې پرې حل کاوه .

په دې دوره کې داشاعرونه چې وایي: " کل احدیؤ خذمن قوله ونبیر ت الارسول الله " له پیغمبره پرته نورد هرچاله خبروڅخه څه احیسنل کیږي (عملي کیږي)اوڅه پرېښول کیږي " ماجاء ناعن الصحابه فعلی الرای والعین وماجاء ناعن التابعین فهم رجال ونحن رجال "هغه څه چې له صحابو رضی الله عنهم څخه موږته راغلي په سراوسترګو یې منلوکوم شي چې موږته له تابعینو څخه راغلي نودوی هم سړي وؤ اومونږهم سړي یو." واذا صلح الحدیث فهوالمذهب واضربوا غیره عرض الحایط " کله چې صحیح حدیث پیداشي نوهغه مذهب دی نوری خبرې ددیوال په مخ وولیږئ،په ټولوبدل شول : داجتهاد دروازه وتړل شوه دفقهاؤ قول ته دشرعي نص په سترګه وکتل شول،حتی ځینې فقهاؤ لادا هم وویل چې که دنص اوفقیه دقول ترمنځ ټکرراغې نودفقیه قول ته به ترجیح ورکول کیږي .

خوبیا هم ددې دورې فقهاؤ دفقه دخدمت لپاره څه ناڅه مفیدکارونه کړي چې خلاصه یې به لاندې توګه وړاندې کیږي .

۱ ـ دفقهي احکا موتحلیل :

ددې دورې فقهاؤ هغه احکام چې له پخوا نیوڅخه په میراث ورته پاته وؤ ترغور لاندې ونیول هم رنګه اومتشا به احکام یې سره یوڅای اومنظم کړل، دهغو علتونو یې پیدا کړل دې کار دتورونو نوو مساءلو په حل کې زیات کومک ورسره کاؤ دغه علت به یې چې په هره مساءله کې کوت په هغه بله مساءله به یې قیاسوله چې دهغې حکم به پخوا نیو علماؤ ټولولی وؤ .

۲ ـ دفقهي احکا موله مجموعې څخه دکلي قواعدورا وبستل مثلاً دې دورې فقهاؤ چې کلمه ولیدل چې ابوحنیفه به هرشي کې چې ځمکه یې شنه کوی که لږوی اوکه ډیر دی آیت په حکم" واتوحقه یوم حصاده" زکات فرض بولي اوپه دې حدیث چې فرمایي :

" لیس فیما دون خمسه اوسق صدقه" عمل نه کوي نو ددې حکم اوده له امثالو څخه فقهاؤ دې نتیجې ته ورسیدل چې دکتاب الله عام په واحدخبر باندې نه تخصیص کیږي ځکه دعام دلالت په خبل ټول مفهوم باندې قطعي دی لکه دخاص دلالت چې پخپل ټول مفهوم باندې قطعي ده نوقطعي په ظن باندې نه تخصیص کیږي .

داحکا موتعلیل اودکلي قواعدورا وبستلو داصول فقه د علم په رشدا وپراختیا باندې زیات تاثیر درلود .

۳ ـ په یو مذهب اویا مختلفو مذهبوکې دمختلفو آرا وؤ تر منځ ترجیح ددې دورې دمهمو خصوصیاتو څخه شمیرل کیږي . دې کار دفقهي په بسط اوتفصیل کې لوی رول ولوبا وؤ . او فقه دسلمانانو نولېړه لوی اومعزز میراث وګرځیده .

خوله ۶۵۶ هجری قمری کال څخه وروسته چې بغداد د تاتاریانو په لاس کې ولیدفقهاؤ له متن لیکلو ،شرحې کولو اواختصارولو نه پرته بل کار نه ده کړی،په دې دوره کې نه ترجیح وه اونه تخریج/ اواستنباط بلکه دفقهاؤ عمل د کتابونه تالیف ، شرح کولو ،اختصارولو اوتعلیق لیکلو څخه پرته بل شی نوو .

کتابونه په اول کې په آسانه اوتفصیلي توګه لیکل شوي وؤ

خوچی کله دزده کوونکوکمزورتیا احساس شوه نو علماوٴ اختصار ته ملاوتړله ،کله کله به دا اختصار دی درجی ته ورسیده چی د مطالبو فهم به تری مشکل شو چی بیا به نورو علماوٴ د مختصرکړی شووکتابو شرح کوله ،بیا نورعلما را پورته شول د شروحوخفیې ځایونه یی توضیح کړل وروسته یی په شروحو مکملی شرحی ولیکلی نوځکه په فقه کی متون،شروح او تبلیغات را منځته شول .

اسلامی فقه چی دخپل تکوین په موردکی یی پورته مختلف مراحل تیرکړی دمسلمانانولپاره دلوی اوګټور میراث به توګه پاته شوی ده تقریباً داتوسووکالوپه موده کی له هره

حیثه دهغه وخت له ټولونظامونو مخکی وه خو متاٴسفانه وروسته له هغه نه تنها داچی چاکارورته ونکړ بلکه ددی فقهی درشدا ولوئیدوپه مخکی زیات خندونه ایجاد شول.

حکومتونو دخپل قدرت له مسائلوپرته دفقهی خواته نوره هیڅ توجه نکوله اونه یی دژوندپه مختلفو برخوکی سمه استفاده تری کوله .

علماوٴ هم دلیکل شویو معینوکتابو په مطالعه کولوقناعت وکړ اقلاً" دفقهی دلیکوا وصیاغت دتهذیب کاریی هم پریښود

دډنیا متحدینوهیوادو دژوندقوانین په ډیروساده او سلیسو عباراتوولیکل اونوریی هم ورځ په ورځ آسانه کوی خومسلمانان په دی برخه کی په تپه ودریدل نه تنها داچی خپلی فقهی ته یی کارونکړ بلکه په ډیروځایوکی یی دحکومتونوا وافرادوپه سطحه دفقهی مخالفت ته ملاوتړله د پردیولهتاٴ ثیرلاندی راغلل زیاتوته یی خپله فقه (دژوند قانون) سپکه اوکمزوری ښکاره شوه،خپله ترقی اوعزت یی په پردی ثقافت اوکلچرکی وبلله .

واقعیت دادی چی که اسلامی فقه داوسنیووضعی قوانینو په شکل ترتیب اوتنظیم شی دمسلمانانو مشکل به له بل هر قانون اونظام څخه نه حل کړی، دحکومتونواوملتونو ترمنځ به خواخوږی، نیږدیوالی، متقابل باوراواعتماد پیدا شی، اوسنی دیوبل نه دبیزاری اوعقدووضع به په متقابل باوربدله شی .

په وروستیو دوو پیړیوکی دنړی په ګوټ ګوټ کی وښ او باردده مسلمانان دی نقطی ته متوجه شوی چی داکثرواسلامی هیوادوحکومتونو پردی لارا نتخاب ،بی ځایه تقلیدیی شروع اوخپل فرهنګ اوثقافت یی پری ایښی دی، دوی - تشخیص کړی چی دعلاج یواځینی لارخپل فرهنګ،دین ، او مذهب ته راګرځیدل دی، په دی موردکی زیاتی هلی ځلی شوی اوکیږی .

دکارونوانجام اونتایج دخدای (ج)پرلاس کی دی خو زیات امیدشته چی پوه مسلمانان به دخپلوملتونوغوښتنی په نظرکی ونیسی اوداسلامی فقه دتطبیق لپاره به پوره زمینه مساعده کړی خپل ولسونه به داسلامی فقه په دنیاکی رهبری کړی .

ومن الله التوفیق

دډین احیااوتجدید

په سیزپسی :

ژباړن :مولوی محمدنعیم "تائب"

داسلام اوجاهلیت ترمنځ فکری اوتاریخی جګړه :

تعمیری کار :

په تعمیری اړخ کی دشاه ولی الله رحمت الله علیه لمړنی مهم کاردا وچی په فقه کی داسی یوه ډیره معتدله لاره (مسلک) وراندی کوی چی په هغه کی دیوه مذهب پلوی اوپه بل مذهب باندی تنقیدنه لیدل کیږی، دیوه محقق په څیړیی د ټولوفقهی مذاهبواصول اوداستنباط لاری مطالعه کړی اوبالکل آزادنظر یی خپل کړی ده .

دکوم مذهب تائیدکه یی کړی لدی کبله یی کړی چی په هغه مسئله کی یی دهغه مذهب په تاییددلیل پیدا کړی، نه ددی له کبله چی دهغه مذهب دوکالت مسئولیت یی په غاړه اخیستی،په کومه مسئله کی چی یی دکوم مذهب نه اختلاف کړی لدی کبله یی کړی چی دلیل یی دهغه مخالف پیدا کړی نه لدی وجی نه چی لدی مذهب سره څه مخالفت اودښمنی لری ،لدی کبله کله هغه حنفی په نظر راځی،کله شافعی ، کله مالکی اوکله حنبلی .

شاه ولی الله رحمت الله علیه دهغوخلکو مخالفت هم کړی چی دیوه مذهب دتقلیدحلقه یی په غاړه کړی اولوړه یی کړی چی په تولومسائلو کی به دهغه پیروی اومتابعت کوم همدارنګه یی دهغوخلکوسره هم سخت مخالفت کړی چی دمذاهبو اماماتونه یی دکوم یوه سره دمخالفت ژمنه کړی ده ددی دواړولاروترمنځ په یوه داسی معتدله لاره روان وه چی په هغی کی دتعصب نه خالی هر حق غوښتونکی ته ډاډاواطمینان ورپه برخه کیدای شی چی انصاف نومی رساله یی ددی لاری (مسلک) هندارده ،همدارنګ یی په مصفی اونورکتابونو کی لیدل کیږی په تفهیمات کی ځیوځای فرمایی:

" زما په زړه کې یوفکر اچول شوی چې تفصیل یې دا دی چې :

دابوحنیفه او شافعي دهم مهاله مذهبونه په امت کې ډیر مشهور دي، ترڅو لوزیات پیروان دهمدې دوو مذهبونو پیدا کیږي او تصنیفونه هم ددې دوو مذهبونو زیات دي، فقها، محدثین، مفسرین، متکلمین، او صوفیه زیات دشافعي (۹۰) دمذهب پیرودي او حکومتونه او ملت زیاتره دحنفي مذهب تابع دي، نن چې کوم کار دملا الاعلي دعلوموسره مطابقت لري هغه داده چې دا دواړه مذهبونه دیوه مذهب په څیروګرزول شي، ددې دواړو رسائیل درسول الله صلی الله علیه وسلم داحادیثو دمجموعوسره سره په مقابلوي رول وکتل شي څه چې دهغو موافق وپه خپل حال باته کړای شي اودهغه شي چې څه اصل نشي پیدا هغه ساقط کړای شي، بیا چې څه دنقدکولونه اهل حدیث او اهل تخریج دواړو لاره یوګای کړای شي، همدا ډول په حجت کې چې په اوم مبحث کې "دفصل ومما ینا سب هذا لمقام التنبیه علی مسائل ضلت فی بوا دبها الافهام" ترعنوان لاندې کوم بحث کړی هغه هم دلیدووړ دی.

ددې معتدل مسلک داختیار ولو دا کټه ده چې پدې سره دتعصب، تنګ نظري، وج تقلیدا وبې ځایه اوږدوبحثونو باندې دوخت دضائع کولو مخنوی کیږي او دپراخ نظري سره دتحقیق او اجتهاد لاره خلاصیږي، لکه څرنګه چې لدې سره شاه صاحب داجتهاد په ضرورت باندې پینګا رکوي اونږدې په رسولوکتابونوکې یې داسې خبرې موجودې دي چې په هغوکې یې تحقیق او اجتهاد ته یو ډول هڅونه کړی دمثال په ډول دمعفي دمقدمې نه څو جملې دده په الفاظو رانقل کوم :

" اجتهاد دهرعصر فرض بالکفایه است، ومراد از اجتهاد درهر عصر فرض بالکفایه است، ومراد از

یواځې دا نه چې شاه ولي الله رحمت الله علیه داجتهاد په مسئله تنها تاءکید کړی وي بلکه په پوره تفصیل سره یې داجتهاد اصول، قواعدا وشرایط بیان کړی دي، په ازاله، صحبت، عقدالمجید انصاف، بدوزبازغه، معفي اونورو تالیفاتو کې یې کلمه اشاره اوکلمه اوږده او مفصل بحثونه کړی دي، همدارنګه پخپلوکتابونوکې چې یې چیرې بحث کړی هغه دیوه محقق او مجتهد په څیر کړی.

وروسته به خپل حال تایید راووځي که په دواړو مذهبونوکې اتفاق وربا ندې شوی وي هغه ددې وړدي چې په خوله کې ونیول شي اوکه ددواړو ترمنځ دهغه په ارتباط داختلاف موجودوي په مسئله کې ددواړو قول ومنل شي اوپه دواړو باندې دعمل کول صحیح وبلل شي، (ددې اختلاف) حیثیت به داسې وي لکه په قرآنکریم دقرائت د اختلاف حیثیت، بایه درخصت اوعزیمت توپیرلري یا به دڅه تنکیاډنه وتلوددو ولارونو عیت لري لکه دکفارا توتعددیا ددووبرا برومیاحولارودحال په څیر (۱) ددې مخلوروا ړخونونه به پرته انشاء الله بل اړخ نشي پیدا" (۲)

په (انصاف) نومې خپل کتاب کې هغه ددینه خپل نظر په زیات تفصیل سره بیان کړی لکه چې په دریم باب کې ډواړه علم ان التخریج علی کلام الفقهاء نه ښوولی دباب تراخیره چې یې څه لیکلی ددې وړدي چې اهل حدیث او اهل تخریج دواړه یې دغور په نظر وکوري، پدې بحث کې چې هغه کومې طریقې ته ترجیح ورکړی هغه داده چې

احتهاد اینجا معرفت احکام شرعیه ازادلهء تفصیلیه وتخریج وترتیب مجتهدانه اگرچه بادشاه وصاحب مذهبی باشدوآنکه گفتیم اجتهاد درهر عصر فرض است بحهت آنست که مسائیل کثیرالوقوع غیرمحصوراندو معرفت احکام الهی درآنها واجب. وآنچه مسطورومدون شده است غیرکافی ودرآنها اختلاف بسیارکه بدون رجوع به ادله، حل اختلاف آن نتوان کرد، وطرق آن تا مجتهدین غالبا منقطع، پس بغیرعرض برقواعد اجتهاد راست نیاید" (۳)

یوازی دا نه چې شاه ولي الله رحمت الله علیه داجتهاد په مسئله تنها تائیدکړی وي بلکه په پوره تفصیل سره یې داجتهاد اصول، قواعدا وشرایط بیان کړي دي، په ازاله، صحبت، عقدالمجید، انصاف، بدوزبازغه، معفي اونوروتالیفاتوکې یې کلمه اشاره اوکلمه اوږده او مفصل بحثونه کړی دي، همدارنګه پخپلوکتابوکې چې یې چیرې بحث کړی هغه دیوه محقق او مجتهد په څیر یې کړی دهغه دکتابونو دمطالعه کولونه یوازې سړی

ته داجتها د اصول او قواعد معلومیږی بلکی ور سره ورسره تربیه کیږی هم.

پورته ذکرشوي دوه دندی داسی وي چې دشاه ولی الله رحمت الله علیه نه مخکی هم خلکو کړی خوکوم کارچې دده نه مخکی چا هم نه وکړی هغه دا ده چې هغه د اسلام پوره فکر، اخلاق، شرعی او تمدنی نظام یې په یوه منظم صورت کی دوړاندی کولو هڅه کړی، دا هغه کارده چې په هغه کی یې دټولو خپلو مخکښونه مسابقه ګټلی ده، که څه هم په لمړنیو دریو څلورو پیړیو کی زیات امامان تیرشوی چې دهغو دکارد لیدونه صفا معلومیږی چې هغوپه ذهن کی د اسلام دژوندپوره نظام فکر درلودپه همدی دول په وروسته پیړیو کی هم داسی محقق کسان پیدا کیږی چې دهغو په ارتباط داسی ګمان نشی کیدای چې هغه به ددی تصورنه خالی وو.

خوپه هغوکی یوه هم په جامع دول اولنه منطقی ترتیب سره اسلامی نظام دیوه نظام د ترتیبولولو رته توجه نده کړی دا شرف شاه ولی الله رحمت الله علیه ته نصیب شوی چې پدی لارکی مخ په وړاندی ولاړشی دهغه دکتابونو د جملی څخه دحجة الله البالغه او بدوزبازغه دواړو موضوع همداده چې لمړی کتاب یې دیر مفصل او دوهم یې زیات فلسفی بڼه لري.

پدی کتابوکی هغه مابعدالطبیعی مسایلو نه شروع کړی او په تاریخ کی دلمړی حل لپاره وینوچې یوتن داسلام دفلسفی دتدوین بنیاد ږدي ددینه مخکی چې مسلمانانو په فلسفه کی څه لیکل او ویایی ویل هغه یوازی دنا پوهی له کبله خلکو داسلام دفلسفی په نوم نومولې پداسی حال کی چې هغه داسلام فلسفه نه بلکی دمسلمانانو فلسفه وه چې دنسب لړی یې یونان، روم، ایران اوهندوستان ته رسیږی، په واقعیت کی چې څه پدی نوم دنومولولایق دي دهغه بنیاد دټولونه مخکی هغه دهلوی شیخ ایښی دی که څه هم دهمغی لمړنی فلسفی یا کلام یا فلسفی تصوف اصطلاحات یې په ژبه اخیستی دي.

دیرتخیلات یې هم دهغه ګټای نه داسی اخیستی لکه څرنګه چې اول هرلاره استونکی مجبوریږی او داسی کوی خوبیا هم دتحقیق دیوی دروازې دخلاصون لپاره دایوه پیاوړی هڅه وه په ګټای دول ددا سی انحطاط په وخت کی ددا سی توان لرونکی او عقلمندسړی ظاهریدل بیخی دحیرانتیا خبره ده.

پدی فلسفه کی شاه صاحب دکائناتو او په کائناتو کی دانسان دیودا دول تصورراڼغته کولو هڅه کوله چې داسلام داخلاقو او تمدن د نظام سره همرنګه او متحدالمزاج وای، یا په نورو ټکوکی که هغه داسلام دوننی ریښه وکرزول شی او دریښی او هغې ونې ترمنځ چې ددی ریښی نه پورته شوی وي حه مبا ینت نشی محسوسیدای (۴).

زه حیرانیږم چې دځینی کسانو دا نظر او روح چې شاه ولی الله رحمت الله علیه د "دیدانتی فلسفی او اسلامی فلسفی دګډولونه دنوی هندی قومیت لپاره دفکری اساس درامنځ ته کولو کوشش کړی" ما ته دهغه دکتابونو هیڅ ګټای ددی خبری پوهه نده ترلاسه شوی او که دا راته معلومه شوی وای په خدای قسم دهغه نوم به می دمجددینو په نیولیک (فهرست) کې نه بلکی دمتجددینو په لړکی لیکلی و.

په نظام اخلاقو کی هغه دیوی ټولنیزی فلسفی مانی پورته کړی چې دارتفاقا توعنوان ورته ټاکلی ده، پدی لړکی، دمنزل تدبیر، دمعاشری آداب، مدنی سیاست، عدالت، ملکی نظم، ټوڼی تنظیم او.... په تفصیل سره بیان کړی او ورسره یې په هغوعواملوهم رڼا اچولی چې دهغو نه په تمدن کی فسادراپیدا کیږی.

بیا یې دشریعت نظام، عبادات، احکام او قوانین وړاندی کړي او دهرشی حکمتونه یې ښودلي دي پدې خاصه موضوع چې هغه څه دول کار کړی هغه داسی ده لکه دده نه مخکی چې امام غزالی رحمت الله علیه کړی وا وقدرتی خبره ده چې د نومورې امام نه دی مخکی شوی دی.

په اخیرکی یې دملتونو او شرائعو په تاریخ باندی هم نظر اچولی او زما دعلم سره سم کم تر کمه لمړنی شخصیت دی چې داسلام او جاهلیت د تاریخی جګړی یې ګټانګر تصور وړاندی کړی.

نتائج:

داسلامی نظام دومره معقول او داسی مرتبه نقشه وړاندی کوو په خپل ګټای ددی خبری پوره ضمانت ده چې هغه دټولو صحیح الفطرته او سلیم الطبع خلکونصب العین وګرزی او کوم کسان

چې دهغونه زیات عملي توان ولري هغه دد ې نصب العین دپوره کولولپاره په خپل ځان - باندی لوبې وکړي برابره خبره ده چې دا نصب العین په مخکې اینبودونکی خپله په عملي ډول ددا ډول کوم تحریک لارښوونه وکړي او کنه ځکه چې ددینه هم محرک ثابت شوی هغه دا ووچې شاه صاحب دجاهلي حکومت او اسلامي حکومت تر منځ فرق په پوره څرګندونه دخلکو په ورانـــدی پیش کړي دی او نه یوازی دا اسلامي حکومت ځانګر تیاوی یې په څرګند ډول بیان کړی بلکې دا بحث یې په تکراری توګه دداسی لارونه وړاندی کړی چې دهغوپه وجه دا یمان خاوندا نوته ترهغه کـــرار کساسل ګران شوی څوپې جاهلي حکومت بـــه اسلامي حکومت نوی بدل کړي،دا مضمون په حجت سومی کتاب کې هم په تفصیل سره دکرشوی خـــو ارالـه داسی معلومیږي لکه چې یوازی په همـدی موضوع لیکل شوی وي، پدی کتاب کې هغه پـــه اجا دینوښا ښتوی چې اسلامي خلافت اوپاچاهـــی دوه بالکل مختلف الاصله شیونه دی، بیا یوطرف ت نه یې پاچاهی اوهغه ټولې فتنې څیږلی چـــې د پاچاهی سره دمسلمانو په ټولنیزژوندکی دتاریخ په حیث پیدا شوی اوبل طرف ته یې دا سلامی خلافت ځانګرتیاوی، شرائط اوهغه رحمتونه وړاندی کوي چې په اسلامي خلافت کې په واقعي ډول په مسلمانا ټولنه زلیږي ، ددینه وروسته څرنګه ممکنه وه چې خلک په آرام کښستـــی وای .

(نوربیـــا)

---

(۱) دمثال په ډول په قصدی ډول دروژی خوړلـو لپاره دکفاری دالاره هم ده چې شپیته روژی و نیول شی اودا هم چې شپیتو مسکینانـــو نه خوراک وروحورل شی پدی دواړو صورتونوکـــی چې کوم یواختیارکړی هغه به صحیح وي .

(۲) التفهیمات الالهیه اول ټوک ۲۱۱ او ۲۱۲ مخونه .

(۳) مصفی اول ټوک ۱۱ مـخ .

(۴) کومه فلسفه چې دمسلمانانو ترمنځ رواج وه هغې داسلام دعملي، اخلاقي اواعتقادی نظـام سره هیڅ ارتباط نه درلودلدی وچې نه چې څومره دهغې رواج زیاتیده په هغه اندازه دمسلمانانو ژوندخرابیده اوعقیده هم کمزوری کیده اخـــلاق خرابیده اوعملي توان هم سړیده ،په ذهن کـــی دمتضاد وخیالاتو دکشمکش دا طبیعي نتیجـــه ده اوهمدا اثراوس دلویدیځی نړی په رواج شـــوی فلسفه کی هم لیدل کیږی ځکه چې هغه هم په هیـــڅ ډول داسلامي نظام فکری اساس نشی جوړیدای.

لیکونه . . . خوابونه

به اداره محترم مجله شفق !

السلام علیکم

ازینکه برادرم وحیدمژده درین مقطع زمان قلم راستی را برکف گرفته وچون تیغ دودم بر جهانخواران نیم جان شرق ومستکبران غرب میتازند وازراه پاسداران انقلاب شکوهمند اسلامی وسوسه زدائی مینمایند درجایش قابل قدراست ولی ازینکه درتجلی عرفان حماسی بزل همت نموده گاهگاهی به بحر بیکران معرفت غواصی میکنند وجواهرحاصلهٔ عارفان پاکیزه سرشت را به اهل محبت عرضه میدارند گوهرشناسان بی تاءمل میگویند:

همره اوستادلم بادبه هرجاکه رود
همت اهل کرم بدرقه جان وتنش

ازآن جمله دمی که باحضرت حافظه (رح) درسایه های قرآن سپری کرده اند لطائف نابی به عاشقان وعارفان عرضه کرده اند درخورستایش میباشدولی این فقیرازسراخلاص بزبان بسمل (رح) می گویم:

زسوزدل گلهٔ دارم وامیدم هست
که مشتعل نشوی اندکی سخن تیزاست

وآن اینکه درموردطریقت وسلوک حضرت حافظ توجه ننموده اورا معتقد به مرشدواستاد ندانسته وفراموش کرده اندکه اوخود فرموده:

ای بیخبربکوش که صاحب خبرشوی
تارهروننباشی کی رهبرشوی
درمکتب حقایق وپیش ادیب عشق
هان ای پسربکوش که روزی پدرشوی

گردرسرت هوای وصالست حافظا
بایدکه خاک درگهٔ اهل هنرشوی

ویا:

دوش ازمسجد سوی میخانه آمدپیرما
چیست یاران طریقت بعدازین تدبیرما

ویا: قطع این مرحله بی همرهی خضرمکن
ظلمات است بترس ازخطرگمراهی
گفتم ای سلطان خوبان رحم کن براین غریب
گفت دردنبال دل ره گم کندمسکین غریب

البته ازینکه نام مرشد ویا مرشدان خودرا واضح نگفته اندبرادرمژده خود فرموده اند که مسلک ایشان رندی وگوشه گیری ازدرباریان واهل ریا بوده ،ونظیرایشان درعصرحاضرهم عارفانی بوده که تظاهربه نسبت ونسب نکرده اندچنانچه اگردیوان حضرت بسمل (رح)

را از نظر گذشتانده باشند درین روش و مشرب طی طریق نموده اند وچیزیکه از آن در مورد مرشد ورهبر طریق ملاحظه شود طور آشکار وجود ندارد واز اینرو این مقدمه کوتاه تقدیم گردید.

وهمچنان درباره‌ء شیخ بزرگوار حضرت شیخ نجم الدین کبری (رح) تلمیح حضرت مولانا (رح) راسند قرار داده اند، صائب نبوده ومسئله بکلی وارونه وبرعکس میباشد، حتا نچه دریکی از تالیفات آن بزرگوار یعنی (الاصول العشره) که از طرف عبدالغفور "لاری" ترجمه وبه اهتمام مایل هیروی چاپ شده چنین آمده است،

" چنگیزخان پیش شیخ نجم الدین کبری (کسی را) فرستاد که فرموده‌ام که درخوارزم قتل عام کنند از آن بیرون آی تا کشته نشوی " شیخ جواب داد: "هفتاد سال درزمان خوش تا خوارزمیان مصاحب بوده‌ام ، دروقت ناخوشی ازایشان تخلف کردن بی مروتی باشد " .

این سخن نجم الدین کبری را با قوت حموی بسیار ستایش کرده ،ودریکی از نامه‌ها بیش از عظمت نجم الدین کبری ومقبولیت سخن وی باکمال حرمت یاد کرده است .

باری نجم الدین کبری درروزگار گرفتاری مردم خوارزم آنان را وانگذاشت ودرفتنه‌ء مغل درسال ۶۱۸ هجری به شهادت رسید .

استاد" بیرنگ "

برادر محترم عبدالتواب " نیکبین " سلامهای ما را هم بپذیرید، ازلطف وشفقتی که برما نموده اید ممنونیم، درمورد انتقادتان باید بگوییم که هرمضمون وهرعکس وطرح باید مطلبی را افاده نماید، برای توضیح وروشن نمودن کارنامه‌های سیاه خاینین دین ووطن ما اگر ضرورت به چاپ عکسها ویا دآوری نامهایشان بیافتد ازچاپ آن ناگزیریم اما مطلب عمده اینست که مضمون ویا عکس چاپ شده چه احساسی را دربیننده ایجادمینماید وچی مطلبی را میخواهد بیان نماید، که با دقت به طرحی که شما آنرا یادآوری نموده اید چهره کثیف وپشت پرده‌ء ظاهرشاه که بازقصد حکمروایی برملت ما را داردنمایان میسازدوارائه این مطلب دریـن موقع حساس ضروری بنظر میخورد.

والسلام

برادرگرامی حبیب الله حقجو !

نامه نوشته‌ء تان بما رسید، ازهمکاری تان ممنون امیدوایم با ما درتماس باشید.

برادرمحترم عبدالحق حکیمی !

نامه ومضمون تانرا بدست آوردیم ، ازلطف تان ممنون ، به امید همکاری بیشترتان.

حل جدول شماره (۳)


۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶
۱ ح ی ق ی و م د ا ر ی گ
۲ ق ا ل م و ر ه م ب ت ا ر
۳ ز ت ر گ ک و ر ب ا چ و ف
۴ ا م ل ب ل ا د م ا ر ت ب
۵ ن گ ک ب م ا خ ی
۶ ک ن و ع
۷ ر ا ز ق م ت ح ر گ ش و ا ل
۸ ی گ ی ب خ د ی ن ل ر م
۹ م ب ا ر ز ا ت ت ن
۱۰ ر د گ ر د ه ن و ر ا س

خوانندگان محترم مجلهٔ شفق !

اداره مجله خوشبخت است که روزتا روز علاقمندان صفحهٔ جدول مجله زیاد میشوند، وبا علاقهٔ وافرجدولهای مجله راحل مینمایند، اینک اسامی برادرانی که جدول شماره (۳) مجله شفق راحل نموده اند :

- صدیق الله حکمت معلم لیسه سیدجمال الدین .
- غلام رسول ازمرکزحرفی اسعدبن معاذ .
- محمدکبیرازکمپ ناصرباغ .
- روان ازغند تنظیم المؤمنین واقع حمکنی .
- سیف الرحمن " ساعی " ازکمیتهٔ نظامی .
- نورالله عضو مدیریت مطبعهٔ حزب اسلامی افغانستان .
- پرویز " ثابت " معلم لیسه سعدبن معاذ .
- احمدذکی یوسف زی متعلم صنف دوازده لیسه حضرت عمرفاروق (رض) واقع وارث آباد .
- عبدالمجیب مامورریاست دارالافتاء .
- عبدالرقیب " حمیدی" باشندهٔ میدان .
- محمد گل .
- میراحمد راسخ .
- حاجی نورالله " حبیب یار " عضوتاریخ انقلاب ریاست ارشادوفرهنگ حزب اسلامی افغانستان .
- عبدالوکیل "حنیفی " ازمرکزتعلیمی افغانستان .
- میرعبدالعظیم نظری ازمرکزتعلیمی افغانستان .
- حشمت الله ارغندیوال فارغ التحصیل جهادپوهنتون
- ع " خدنگ " ازنصرت مینه .
- داکترنجیب الله "محبوب"
- محمدانورباشندهٔ ولایت پروان ازغندحضرت عمرفاروق (رض) ورسک
- محمدناصر"احدزاده" ازحیات آباد

برادریکه درین شماره مستحق جایزه شمرده شدنمحترم محمدکبیرازکمپ ناصرباغ هستند، آنها میتوانندبا مراجعه به اداره مجله جایزهٔ خودرا اخذنمایند.

باید اضافه کردکه ازرهنمایی برادرانیکه درمورداشتباهات ما بما نموده اندقلبا ممنونیم .

جـــدول شمـــاره (۴)

جدول

طرح از: عبدالمجیب ماموردارالافتاء حزب اسلامی افغانستان .



افقـــی :

۱ ـ نعمت افزاید ـ یکی ازکشورهای عربی ـ دروقت قدرت نیکوترین عمل ـ ...ورزید کافـرشـــد .

۲ ـ مرغ بلندپرواز ـ نروایت صحیح بخاری نواختن آن به زن ها مجازاست درصورتیکه زنگ نداشته باشـــد .

۳ ـ قامت ـ درخت ،عربی ـ سوره‌ای ازقرآنکریم ـ خداوند(ج) بی نیازازآن است .

۴ ـ فراموش ، پشتو ـ پرنده‌ء است ازنوع مرغابی ، عربی .

۵ ـ چشم عربی ـ اولین نبی ـ گلستان .

۶ ـ یکی ازولسوالی های سمت شمال کشور ـ نا امیدی ـ وسیله‌ء زراعت ـ یک سوم حصه کره‌ء زمین رااحتوانموده است .

